محمدنعمان دوست

۲۰۲۴/۰۹/۰۵

# د نورستان ننداره

## ځلورمه‌برخه



**کم نصیبه سیند:**

دلته د نورستان د مست سیند پلنوالی (عرض) دومره کمیږي چې که ځوک ونه ډار شي؛ نو ټوپ هم تړې وهلی شي. له دواړو خواو ستري ډبرې سره رانږدې شوي دي او دا تک سپین سیند یې په خپله تنګه غیږه کې نیولی دی. دا صحنه د اروابناد احمد ظاهر د یوې عاشقانه سندرې یوه کړۍ سړي ته را یادوي:
بیا که در بغل تنگیت بگیرم، بلای کاکل چنگیت بگیرم...
ډبرو، سیند په غیږ کې نیولی. ډبرو د اوبو د ښکلا بلا په ځان اخیستې ده او ...
دا ډبرې د حال په ژبه وایي چې راشئ، دلته بند جوړ کړئ، دا رڼې اوبه مهار کړئ، دا د نښترو وطن په ګروپونو ځراغان کړئ، د بریښنا په زور فابریکې جوړې کړئ چې لږ تر لږه مالداران همدلته د خپلو څارویو وړۍ وریشې او په خپل ښایسته نوم وړین ټوکران د نړۍ ګوټ ګوټ ته صادر کړي؛ خو...
اوبه، لکه ښې سمې چې مرورې وي، په ټول زور د ډبرو له تنګې غیږې ځان خلاصوي او له ډیرې غوسې له کانو سره، سر وهي او مخکې روانې دي .
سړی حیران شي، د خلکو سپین سترګیو ته حیران شي، د دوی بې ځایه تهمتونو ته حیران شي او...
وګورئ، د ثور له خونړۍ کودتاه وروسته، قهرجنو کودتاه چیانو به خپلو بیانونو او نشراتو کې ظاهر شاه خاین، استراحت طلبی او فاسد معرفي کاوه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

دغه شان زموږ د ماشومتوب دوره کې به د تنظیمي مشرانو د تقریر یوه برخه خامخا ظاهر شاه ته وقف وه او د پردي ملک له ستیژه به یې د خپل وطن په مشر د تومتونو ډزې کولې. د خاین، فاسد، عیاش او... خطاب به یې ور ته کاوه؛ خو څه وشول؟ وخت هر څه روښانه کړل .
کودتاه چیانو په خپله واکمنۍ کې یوه داسې پروژه عملي نکړه چې د شاهي دورې د یوه بند برق هومره ارزښت ولري؛ البته پخوانۍ جوړې شوې یې هم ویجاړې او لوټ نکړې. تنظیمونو بیا په خپله پنځه کلنه واکمنۍ کې نه یوازې دا چې یوه د خیر ډبره کینښوده؛ بلکې د ظاهر خان د واکمنۍ فابریکې، عام المنفعه تاسیسات او نوره شتمني یې هم ښه په اخلاص لوټ، کباړ او ختمه کړه .
اړتیا نشته چې د مرحوم ظاهرخان صفت وشي، اوس ورته کومه ګټه هم نه کا؛ خو هغه څه چې د سر په سترګو لیدل کیږي؛ یادونه یې ضرور ده:
یوازې د کابل – جلال آباد، پر لویه لاره په شاهي دوره کې څلور د بریښنا بندونه جوړ شول. که تاسو د درونټې، سروبي، ماهیپر، نغلو بندونه وګورئ دا ټول په شاهي دوره کې جوړ شوي دي او دا ټول بنیادي کارونه په ډیر لنډه موده کې تر سره شوي. مثلا :
د درونټې بند فقط څلورو کلونو کې جوړ شوی؛ په ۱۹۶۰ کې یې کار پیل او په ۱۹۶۴ کې بشپړ شو. دغسې له دغه بند سره هم مهاله، د نغلو په ستر بند هم کار پیل او په اتو کلونو کې بشپړ شو او...
ما اوریدلي و چې د سردار داود خان وخت کې د نورستان په سیند د بند جوړولو پلان و؛ خو کودتاه چیان راپورته شول، د جګړې اورونه بل شول او دا پلان د لسګونو نورو پلانونو په څیر د کاغذ پر مخ پاتې شو .
وختونه تیریږي؛ خو کارنامې پاتې کیږي. راتلوونکي نسلونه به خامخا تاریخ مطالعه کوي او د هرې واکمنۍ لاس ته راوړنې او ناکامۍ به په دقت لولي او پرته له ویرې به قضاوتونه کوي .
هره دوره کې زموږ د بې وسه وطن هره برخه د حال په ژبه همدا نارې وهي:
"دوباره دې راتله نشته په دنیا
نن دې وار دی، که دروغ کړې که رښتیا"
موږ د نورستان د سیند تر غاړې روان وو، مستو خو بې قدره اوبو ته مې کتلې، د خپل وطن په کم نصیبۍ مې سترګې راډکې شوې، زړه درزا شروع کړه؛ خو د اوبو شور و، بل چا نه اوریده .

وږی/ ۱۵ /۱۴۰۳

نور بیا...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ